**هغو افغان ځانګړو کډوالو لپاره معلوماتي پاڼه،**
***چې په يوه خوندي پناه ځای کې د حالت/ حيثيت د تعديل لپاره د غوښتنې طلب کوي***

متحده ايالاتو ته ښه راغلاست. څنګه چې تاسو خپلو نويو کورونو ته ورځئ او په خپلو محلي ټولنو کې مدغمیږئ، ستاسو روغتيا، خونديتوب او خير ښېګڼه به زموږ لومړيتوب وي.

**ځانګړي کډوال**

که چېرې تاسو باور لرئ، چې د متحده ايالاتو د حکومت په استازولۍ ستاسو د دندې پر بنسټ د يوه ځانګړي کډوال په توګه د حالت/ حيثيت د تعديل لپاره د يوه غوښتنليک د سپارلو مستحق ياست، يا دا چې متحده ايالاتو ته تر راتګ وړاندې مو د کډوالۍ د ځانګړي ويزې د غوښتنليک پروسه پيل کړې وي، خو بشپړه کړې مو نه وي، تاسو به اړ ياست چې لاندې ياده شوې پروسه بشپړه کړئ:

1. له بهرنيو چارو وزارت سره د ماموريت د مشر (COM) د تصديق غوښتنه وکړئ.
   - د لا زياتو معلوماتو لپاره، [travel.state.gov/content/travel/en/us-visas/immigrate/special-immg-visa-afghans-employed-us-gov.html](travel.state.gov/content/travel/en/us-visas/immigrate/special-immg-visa-afghans-employed-us-gov.html) يا [travel.state.gov/content/travel/en/us-visas/immigrate/siv-iraqi-afghan-translators-interpreters.html](travel.state.gov/content/travel/en/us-visas/immigrate/siv-iraqi-afghan-translators-interpreters.html) ووينئ.
   - که چېرې تاسو لا دمخه د ماموريت د مشر تصديق لرئ، دويم پړاو ته لاړ شئ.
2. د متحده ايالاتو د تابعيت او کډوالۍ خدماتو اداري (USCIS) سره [فورمه I-360، امريکايي – اسيايي، کونډ(ې) يا ځانګړي کډوال لپاره عريضه](uscis.gov/i-360) ډکه کړئ. په دې پته uscis.gov/i-360 چمتو شوې لارښوونې تعقيب کړئ.
   - تاسو بايي خپله عريضه له اړينو اسنادو سره (د لومړيتوب له مخې په پي ډي ايف شکل) سکين او په دغه پته nsci360sivapp@uscis.dhs.gov ايميل کړئ. د مهربانۍ له مخې هغه برېښناليک پته پکې وليکئ چې تاسو غواړئ د متحده ايالاتو د تابعيت او کډوالۍ خدماتو اداره (USCIS) درته يو برېښنايي رسيد دروليږي.
   - که چېرې تاسو يوه تصديق شوې [فورمه I-360](uscis.gov/i-360) لرئ، دريم پړاو ته لاړ شئ.
3. که چېرې د متحده ايالاتو د تابعيت او کډوالۍ خدماتو اداره (USCIS) ستاسو [فورمه I-360](uscis.gov/i-360)تصديق کړې وي، تاسو بايي له [فورمه I-485، د دايمي استوګنې د ثبت يا د حالت/ حيثيت د تعديل لپاره غوښتنه](uscis.gov/i-485) سره، د حالت/ حيثيت د تعديل يا قانوني دايمي استوګنې (ګرين کارډ ترلاسه کولو) لپاره غوښتنه وکړئ. که چېرې تاسو په متحده ايالاتو کې يوه پته لرئ، بايي د متحده ايالاتو په يوه خوندي پناه ځای کې فورمه I-485 ډکه کړئ څو ستاسو په فورمه I-485 کې شامل شي. که چېرې تاسو په متحده ايالاتو کې کومه پته نه لرئ، بايي هغه مهال يې ډکه کړئ چې خپل نوي کور ته ورسيږئ او د نوې پتې په اړه وپوهيږئ. که چېرې تاسو له خپلې نوې پتې څخه فورمه I-485 ډکوئ، د لارښوونو لپاره [uscis.gov/green-card-for-an-afghan-employed-behalf-us-government](uscis.gov/green-card-for-an-afghan-employed-behalf-us-government) يا [uscis.gov/green-card/green-card-eligibility/green-card-for-an-afghan-or-iraqi-translator-or-interpreter](uscis.gov/green-card/green-card-eligibility/green-card-for-an-afghan-or-iraqi-translator-or-interpreter) پتې ته مراجعه وکړئ.
   - تاسو اړ نه ياست چې د فورمه I-485 لارښوونو مطابق د پاسپورټ اندازې 2 انځورونه وسپارئ.
   - يادداښت: د متحده ايالاتو د تابعيت او کډوالۍ خدماتو اداره (USCIS) بايد ستاسو د فورمه I-485 تر سپارلو مخکې فورمه I-360 تصديق کړې.
4. د متحده ايالاتو د تابعيت او کډوالۍ خدماتو اداره (USCIS) به له هغه وروسته تاسو لپاره د مرکې مهالوېش وټاکي، چې تاسو [فورمه I-485](uscis.gov/i-485) وسپارئ.
   - د متحده ايالاتو د تابعيت او کډوالۍ خدماتو اداري (USCIS) له لورې ټولې چمتو شوې لارښوونې تعقيب کړئ. که چېرې موږ ستاسو [فورمه I-485](uscis.gov/i-485) تصديق کړو، موږ به ستاسو شين کارټ/ ګرين کارډ تاسو ته دروليږو.
   - د متحده ايالاتو د تابعيت او کډوالۍ خدماتو اداره (USCIS) به ستاسو د غوښتنليک پر مخ بيولو کار چټک کړي.